د مطالعې لنډ لارښود

۱- ولې مطالعه وکړو؟

۲- مطالعه څرنګه پیل کړو؟

۳- څه مطالعه کړو؟

۴- څومره مطالعه وکړو؟

۵- کله او چېرته مطالعه وکړو؟

٦- د مطالعې لپاره مناسب پلان څه کېدلی شي؟

۷- ایا منظمه مطالعه وکړو که متفرقه؟

۸- ایا ډیجیټل مطالعه اغېزناکه نه ده؟

۹- ایا د کړې مطالعې هېرېدو ته اندېښنه وکړو؟

۱۰- د مطالعې غوره روش څه کېدلی شي؟

دلته په پاسنیو لسو پوښتنو غور شوی دی. د یادونې وړ ده، چې په دې موضوع ډېرې زیاتې مقالې او کتابونه په پښتو او دري ژبو کې موندلی شو، خو په دې مقاله کې زه یوازې د خپلو شخصي تجربو له نګاه نه غږېدلی یم او پر هغو لارو او روشونو مې تکیه کړې، چې ما کارولي او ماته یې ګټه رسولې. دا خبرې ممکن د کتابونو له تیوریو سره مطابقت ولري او یا دې وشي چې ټولې خبرې ورسره مختلفې وي. په دې لیکنه کې مې د خبرو طرز داسې دی لکه له خپلې اټوبیوګرافي نه مې چې د مطالعې داستان را ایستلی وي.

۱- ولې مطالعه وکړو؟

دا پوښتنه له ما سره هم وه. خپل ورور به مې لیده، چې په ساعتونو، ساعتونو به یې مطالعه کوله. د اختر په ورځ به مور په دې فکر کې وو، چې کوم فلمونه وګورو یا چېرته چکر ووهو، خو ورور به مې چې د مېلمنو ترمنځ کومه لنډه وقفه وموندله، نو په هغه لنډه وقفه کې به هم په کتاب کې غرق او له دنیا ناخبره تللی وو. ما سره به تل پوښتنه وه، چې ولې مطالعه وکړو؟ او څه ګټه یې رسېږي؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خو په تصادفي ډول يوه ورځ يو کتاب لاسته راغی او د دې کتاب تاثير دومره ژور وو، چې په يوه ناسته کې مې ختم کړ او چې تـرې پورته شوم، د کتابونو ناوې را نکاح شوې وه او هماغه ورځ شوه او بيا تر ننه زما سفر دی.

دغه کتاب «متاع وقت اور کاروان علم» نومېږي، چې ابن الحسن عبـاسي ليکلـی دی. ضرور نـه ده، چـې دغـه کتـاب دې پـه هـر چـا همدومره ژور اغېز وکړي، ځومره يې چې په ما وکړ. په دې کتاب کې مې ولوستل، چې ابن سينا به يو کتاب ځلوېښت ځله لوسته. امام شافعي په دې وفات شو، چې د يوې مسئلې په لټون کې دومره ډوب وو، چې په دې نه وو پوه شوی، چې ځومره خرماوې يې خوړلې دي. ومې لوستل چې استادانو ته به يې خپلو شاګردانو د حمام د دروازې شاته کتابونه په لوړ غږ لوستل. دغو خبرو د وخت په ارزښت هم پوه کړم او په دې يې هم پوه کړم، چې مطالعه د ځان د ودې لپاره پکار ده. ما پـه دې کتـاب کـې د خپلـو علـماوو ژونـد وليـده او غوښتل مې چې له دوی سره ډېر زيات وخت تېر کړم. له خپلې شاوخوا نړۍ مې زړه پورته شو او هغه نړۍ راتـه ښـکلې ښـکاره شـوه، چې يوازې کتابونه او علما پکې اوسېږي. ما د مطالعې لپاره بل هېڅ لامل او انګېزه نه درلوده، يوازې د يوې ښکلې نړۍ پـه ارمـان کـې وم او هغه نړۍ په کتابونو کې وه. دا چې ستاسو انګېزه به څه وي، نه پوهېږم، خو د مطالعې لپاره يوه قوي او تلپاتې انګېزه پکار ده.

۲- مطالعه څرنګه پيل کړو؟

له ماسره فطرتي د شېږو ځانګو ډېره شديده مينه پيدا شوه. دا شېږ ځانګې فلسفه، اديان، ساينس، اروا‌پوهنه، ادبيات او کمپيوټر پوهنـه وو. کمپيوټرپوهنه خو وروسته زما مسلک هم شو. د دغو متنوع دلچسپيو ګټه دا شوه، چې مطالعـه مـې ورسره خـورا دلچسـپه شـوه او همدې دلچسپي په کتابونو پورې کلک سرېښ کړم او زما غوندې کس ته يې له سهاره د شپې تر ناوخته د مسلسل مطالعې حوصـله او انرژي راکوله. زما توصيه دا ده، چې په پيل کې خپله مطالعه متنوع او دلچسپه وساتل شي. دلچسپه په ناولونو يا انځوريزو کتـابونو نـه، بلکې په ډول، ډول علمي مباحثو يې خوندوره او په زړه پورې وګرځوئ. تر فلسفې، اديانو، اروا‌پوهنې او ادبياتو دلچسپه موضوعات به چېرې وي؟

ما په پيل کې او تر نن ورځې پورې، په ځان مطالعه سخته او اجباري کړې هم نه ده. له ما فطرتا د ورځې يو څو مخه مطالعه کېږي. پـه خوا کې يې له يوټيوب خورا مثبته استفاده هم کوم، نړيوالې او داخلي وېبپاڼې او مجلې هم راګـورم او هنـدي او امريکـايي فلمونـه او سريالونه مې هم دومره کتلي، چې ډېر کم کسان به راسره سيالي پکې وکړای شي. د دې په خوا کې مې وخت په وخت د اسـتاذ شرف الدين عظيمي او استاذ جمشيد رسا په سيمينارونو کې هم ګډون کړی او اوس چې له هېـواده بهـر يـم، کوشـش مـې دا وي، چـې هـر سيمينار يې واورم. په دې معنا، چې د مطالعې په خوا کې مې خپل ژوند هم متنوع ساتلی دی او د ژوند له هر اړخ او کونج نـه مـې تـر وسه وسه د خوند اخيستو کوشش کړی دی.

البته يوه نکته مې تل په ذهن کې وي، چې مطالعه بايد حتمي وکړم، هغه که د يوه سيمينار د اورېدو په بڼه وي او يا د يوه ښوونيز فلم د ليدو په بڼه. مطالعه يوازې کتاب نه دی. مطالعه د خپل ذهن سالمه تغذيه ده، په هر ډول چې ممکنه وي بايـد وشي او خپلـه ورځ بـې معنا تېره نه شي.

د کتابونو په خوا کې زما ژبې هم متنوع وې. زما نه يادېږي چې ما دې مسلسل په يوه ژبه مطالعه کړې وي. په پيل کې به مې هـره ورځ په اردو، پښتو، دري او انګريزي مطالعه کوله، خو اوس چې دوه کتابونه په يوه ژبه کې مطالعه کړم، نو په ځان مې حتمي کړې ده، چې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

یو دوه کتابونه به د بلې ژبې راګورم. مثلا په همدې تېره میاشت کې ما درې کتابونه ولوستل، یو په دري کې وو، بل په اردو او دریم په پښتو کې دی، چې تر دې دمه لا خلاص نه دی. د ژبو تنوع مې دومره خوښ دی، چې ډېر کله په هغو ژبو هم کتابونه راګورم، چې پوره مې زده هم نه دي، لکه عربي ژبه.

۳- څه مطالعه کړو؟

ما چې مطالعه نه کوله، نو دا پوښتنه هم راسره نه وه، چې څه مطالعه کړم. خو چې مطالعه مې پیل کړه او پورتني شپږ ذوقونه مې ومونډل، نو بیا دا پوښتنه ځواب شوې راغله او نور په دې پسې نه ګرځېدم، چې څه شی مطالعه کړم. زما تر مخ ډېر زیات اپشنونه وو او په هر اپشن مې پوره، پوره خپل زړه اوبه ځښلې.

د پوهنتون دوره مې چې پیل شوه، له متنوع او متفرقې مطالعې مې خپله لمنه را لنډه کړه او د خپل مسلک سیستماتیکه مطالعه مې شروع کړه. سیستماتیکه په دې معنا چې له اساساتو مې پیل وکړ او همداسې مخ په بره روان شوم.

د مطالعې لپاره حوصله او ستیمینا تیار راسره وه او له خپل مسلک سره مې شوق هم وو، نو دلته هم کله له مطالعې ستړی یا بې انګېزې شوی نه یم.

د «څه مطالعه کړئ» تعلق تر ډېره په دې پورې دی، چې ستاسو ذوق څه شی دی او اړتیا مو څه ده؟ په دې برخه کې زما توصیه دا ده، چې د اړتیا تر مطالعې چې ځان را رسوئ، نو د خپل ذوق د کتابونو په مټ مو له کتابونو سره بویه ملګرتیا دومره پخه شوې وي، چې نور د ولې، بې انګېزه توب او زړه تنګي احساس او پوښتنه درته ونه درپېږي.

۴- څومره مطالعه وکړو؟

ما تل د خپلې تندې په اندازه مطالعه کړې ده. تاسو به حیرانه شئ، چې ما د مطالعې د لارښود په اړه تر دې دمه یو کتاب هم نه دی لوستی او نه یې په اینده کې احتمال وینم، په دې چې دغسې کتابونه ایډیال خبرې راته کوي خو نه مور ایډیال سړي یو او نه مو ژوند ایډیال دی.

ستاسو ذوق څومره پراخه دی، مطالعه به مو هم هماغومره ډېره وي. ذوق مو چې د یوه کوچني ډنډ په اندازه وي، په هغه کې د سمندر په کچه لامبو نه شئ وهلی. د څومره مطالعې په ځای په دې فکر پکار دی، چې زمور ذوق څه شی دی؟ ذوق تاسو ته وخت هم درکوي او انرژي هم.

مثلا زما په ذوقونو کې له ملګرو سره تر اندازې ډېر وخت تېرول نشته، خو دا چې د مطالعې ذوق مې ډېر پراخه دی، وخت هم ورته لرم او انرژي یې هم راسره شته. د کمې مطالعې یا ډېرې مطالعې یا په اندازه مطالعې په نوم کوم څه نشته، مطالعه د ذوق په اندازه کېږي او چې ذوقونه سره مختلف دي، نو مطالعې ته وخت ورکول به هم مختلف وي.

زه چې له مطالعې نه ستړی کېږم، ذوقونه مې ډېر دي، متنوع دي، ځینې یې له یو بل سره په ټکر کې هم دي، خو په کل کې ټول ذوقونه ما یوې ټاکلې نتیجې ته رسوي: تر پرون بهتر انسان کېدل او د ژوند په هکله د درک زیاتېدل.

۵- کله او چېرته مطالعه وکړو؟

ما تر ننه هم دې ته ارزښت نه دی ورکړی، چې د مطالعې لپاره به سهار مهال ډېر ښه وي او یا د شپې چوپه چوپتیا. په دې مې هم کله غور نه دی کړی چې ایا ذهني او جسمي وضعیت مې مطالعې ته جوړ دی که نه دی. ما د ښاغلي مصطفی سالک «پاتې شه باران دی» ناول د دې لپاره ولوسته، چې ګواکې سردرد به مې ورسره روغ شي او بلاخره همداسې وشول.

په ګڼه ګوڼه کې مې هم مطالعه کړې او د قدم وهلو په حال کې هم. د فلسفې یو ډېر پنډ کتاب مې د شپې له خوا د نوکیا موبایل څراغ ته لوستی دی. د قرآن کریم د تفسیر لپاره مې د معارف القرآن لویه برخه د مازدیګر له خوا لوستې او ځینې ناولونه خو مې د ډوډۍ خوړلو یا مېچ لیدلو په حال کې راکتلي دي. لوی استاذ عبدالحی حبیبي به د سپوږمۍ رڼا ته د اویستا او ریګویـد متنونه لوستل. اخر همدې خبرو خو د مطالعې په اړه زما ګڼې ستونزې او اندېښنې په اوبو لاهو کړې او نور مې هېڅ کله ایډیال حالتونو ته انتظار نه دی کړی. البته چې وس به مې وو، ایډیال حالتونه می هم تجربه کړي. «د صوفي نړۍ» کتاب مې په یوه پارک کې لوستلی او ډېر وختونه مې وچه مېوه او شین یا شیدو چای هم نه دي هېر کړي. کله کله خو به مې شپې په دوه بجو د شیدو چای جوړ کړ، تر څو تر سهاره پورې د مطالعې شیمه راکې پیدا شي. خو چې نه وو هم، تر سهاره مې مطالعه کولی شوه او اوس یې هم کولی شم.

٦- د مطالعې لپاره مناسب پلان څه کېدلی شي؟

ماته د ابن الحسن عباسي کتاب د مهالوېش ارزښت هم را زده کړ. اوسمهال خو مهالوېش تر ډېره زما په ذهن کې وي، خو په اولنیو کلونو کې مې تقسیم اوقات په لیکلي شکل وو او ډېر کلک به پرې ولاړ وم.

زما تقسیم اوقات کې یو کار هم جبري نه وو، ټول مې خپل ذوقونه وو او خپل ذوقونه به مې پکې شیندلي پراته وو.

البته په دې تقسیم اوقات کې به ما د خپلې مطالعې پلان هم مشخص کړی وو. ما تر ننه پورې هم په یوه ځانګه کې بې نظمه او ګډوډه مطالعه نه ده کړې. تل به مې له اساساتو پیل کاوه او ورو ورو په ورو به مې خپل سفر لنډاوه. مثلا د اسلام په هکله ما مطالعه د قرآن کریم له ترجمې نه پیل کړه. (یادونه: عربي مې په خوا کې ورسره تعقیبوله.) له ترجمې وروسته مې تفسیرونو ته مخه کړه. د قرآن کریم یوه عمومي جایزه می چې واخیسته، د احادیثو مجموعې ته مې سر ښکاره کړ. سره له دې چې دا مجموعه ډېره پراخه وه، خو تر وسه وسه مې له دې برخې سره هم ځان بلد کړ. له دې دواړو وروسته مې د فنونو حصې ته توجه واړوله. د فقهې اصول، د قرآن او حدیثو علوم، بېلا بېل مذهبي فکرونه او داسې نور. په دې سره مې په دین کې سترګې خلاصې شوې او بیا به مې موضوع محوره مطالعه کوله. موضوع محوره په دې معنا چې یوه موضوع به مې ونیوله او له هر اړخ نه به مې وڅېړله.

دغه میتود ما نورو ځانګو کې هم تطبیق کړی او اوسمهال په هره ځانګه کې یوازې موضوع محوره مطالعه کوم، په عمومیاتو او اساساتو پسې یې نه ګرځم. له همدې امله په دې شېړو ځانګو کې ماته د خپل نظر څرګندول ډېر مشکل کار نه وي.

د مطالعې لپاره تر دې بهتر میتود ما نه دی لیدلی او فکر کوم، چې همدا به یې طبیعي میتود هم وي. په دې میتود کې انسان ته څېړنه په دې اسانه وي، چې اساسي ماخذونه معلوم وي او ډېر ژر یې پاڼې اړولی شئ.

۷- ایا منظمه مطالعه وکړو که متفرقه؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ستاسو د مطالعې مسیر باید تل روښانه او واضح وي. مثلاً که تاسو د ادبیاتو مطالعه د اړتیا یا ذوق له مخې کوئ، نو منظمه او سیستماتیکه یې وکړئ. له اساساتو یې پیل کړئ. زما دا عادت دی، چې ما متفرقو کتابونو ته جدي او منظم وخت نه دی ورکړی، متفرق په دې معنا چې کله اروا‌پوهنه لوله، کله شعري ټولګې در ګوره، کله ناولونه، کله ساینسي کتابونه او کله بیا د قرآن او حدیث ترجمو ته ناست اوسه.

مور هره ځانګه په منظمه بڼه مطالعه کولی شو. مثلاً اروا‌پوهنه ابتدایي، پېژندنیز او اساسي کتابونه هم لري او په همدې بڼه د تخصص تر حده هم مواد پکې موندلی شئ. نو که د اروا‌پوهنې ذوق لرئ، له اساساتو یې پیل کړئ. البته د ذهني تفریح یا فکر بدلولو لپاره په خوا کې یو نیم بل کتاب هم مطالعه کولی شئ. په دې سره تاسو دوه ګټې کوئ، یو دا چې د اروا‌پوهنې په اړه تاسو یوه واضح دریځ ته رسېرئ او په دې به پوهېرئ، چې په اروا‌پوهنه کې ځومره پوهېرئ او نور باید څه شی مطالعه کړئ. بله ګټه یې دا ده چې په خوا کې به مو یو بڼه ناول، شعري ټولګه، فلم، سریال یا بل د خپل ذوق شی هم لوستلی یا کتلی وي. خو خپل اصلي مسیر به نه هېروئ.

د متفرقې مطالعې یوه ستونزه دا وي، چې وخت په وخت انسان بې انګېزې پرېږدي. مثلاً نن مو په اروا‌پوهنه کې یو بڼه اثر ولوسته، خو دا چې تاسو پلان نه لرئ، چې بل کتاب هم په اروا‌پوهنه کې ولولئ، نو تاسو څو ورځې بې انګېزې ګرځئ، چې اوس څه شی ولولئ یا کوم کتاب در واخلئ. نو متفرقه مطالعه که کوئ، په خوا کې یې یو ټاکلی مسیر باید در معلوم وي. مثلاً په دې ورځو کې زما لوری د ادبیاتو په خوا دی، همدا مې اصلي مسیر دی، خو په خوا کې متفرق مطالعات هم کوم.

۸- ایا ډیجیټل مطالعه اغېزناکه نه ده؟

پوښتنه دا ده، چې په کمپیوټر او موبایل کتابونه لیکلی شو، لوستلی یې ولې نه شو؟ د مطالعې اغېزناکې په دې سره زیاتېږي، چې زمور تمرکز او توجه ځومره په کتاب او موضوع راټوله ده او مور د یوه کتاب یا موضوع اړتیا ځومره محسوسوو؟ که یوازې د دې لپاره کتاب لولو، چې خلک خبر کړو، چې مور پلانکی کتاب لوستی، نو دا دومره کمزورې انګېزه ده، چې نن به وي، سبا به نه وي. بیا که اصلي خطي نسخه هم په لاس کې ولرئ، مطالعه به مو اغېزناکه نه شي.

ډیجیټل کتابونو مطالعه ډېره زیاته اسانه کړې او اوسمهال تاسو هر وخت په هر ځای کې کتاب ته ډېر په اسانه او ارزانه لاسرسی موندلی شئ. د دیوبند یوه عالم د قرآن کریم ډېره مشهوره ترجمه ولیکله. ده په خپله سریزه کې لیکلي، چې دا ترجمه ما د سفرونو په جریان کې لیکلې او له هغو کتابونو مې استفاده کړې، چې په کمپیوټر کې راسره وو. کتاب لوستل تر کتاب لیکلو په کراتو ډېر اسانه دی، نو یو لیکوال چې شهکار کتاب په کمپیوټر کې لیکلی شي، مور یې لوستلی ولې نه شو؟

له پیله تر نن ورځې پورې زما شاوخوا ۹۵ سلنه مطالعه په ډیجیټل بڼه ده، ما له لومړۍ ورځې دا احساس نه دی کړی، چې ډیجیټل مطالعه سخته ده یا برداشت ترې نه کېږي. زه تر چاپي کتاب نه له ډیجیټل کتاب سره ډېر ارامه یم او ډېر ګټور راته ښکاري.

د ډیجیټل کتابونو لپاره له تبلیغ نه مې منظور دا دی، چې زمور د اکثریت وګړو اقتصاد په دې وضعیت کې نه دی، چې هر نوی او زوړ کتاب دې وپېرلی شو. زمور اقتصادي وضعیت د مطالعې فرهنګ ته شدیده صدمه رسولې، خو ډیجیټل کتابونه یې یو ډېر بڼه بدیل او جبران کېدلی شي.

۹- ایا د کړې مطالعې هېرېدو ته اندېښنه وکړو؟

موږ چې څومره مطالعه کوو، ډېر امکان يې شته، چې لس سلنه يې هم زموږ په حافظه کې داسې پاتې نه شي، چې بله ورځ کټ مټ نقل قول ترې وکولی شو. تاريخي نېټې، کتابي تعريفونه، د اصطلاحاتو ليکلې معناوې، د اشخاصو شجرې او نسبونه او د کتاب ګڼ نور اړخونه داسې دي، چې يوازې د کمپيوټر حافظه يې د خوندي کولو وړتيا لري، بشري حافظه ورته عاجزه ده. دغه راز، د کتاب يوه لويه برخه د ليکوال استدلال، تحليل او تجزيه وي، دا هم هغه برخه ده، چې موږ اړتيا نه لرو، چې ټول ټکي په ټکي ياد کړو. په دې چې ليکوال په خپل ټول استدلال کې موږ تر يوې معلومې خبرې را رسول غواړي. د استدلال په لوري او ثابته شوې خبره چې پوه شو، همدا تر ډېره کافي وي. يو مثال به يې در کړم. «ملتونه ولې ماتېږي؟» يو ډېر مشهور او مهم کتاب دی، خو حجم يې هم ماشاءالله ډېر لوی دی. دا کتاب يوازې موږ په دې خبره قانع کوي، چې د يوه هېواد لپاره سياسي ثبات تر هر شي ډېر مهم دی او سياسي ثبات د جمهوريت له لارې راځي او بله دا چې استبداد پايښت نه شي کولی، د دې کتاب نورې ټولې پاڼې د همدې قاعدې لپاره په استدلال تورې شوې دي.

بله دا ده، چې مطالعه په داسې ډول زموږ په فکر و شخصيت کې ځای نيسي، چې موږ يې په لنډ مهال کې اغېز نه وينو، په دې چې د مطالعې اغېز داسې معلوم او محسوس نه وي لکه موږ چې نوې جامې اغوندو. يوه اسانه لاره چې پوه شئ، د مطالعې ګټه څه ده، دا ده چې ځان له يوه داسې چاسره پرتله کړئ، چې هېڅ مطالعه نه کوي.

زه به د سليمان لايق د مستند يوه جمله را پور کړم. ارواښاد لايق وايي، چې دا خلک چې ماته د شوتلې پټکی را ترې او وايي چې زه هم يو شی يم، نو دا د همدغو کتابونو برکت دی.

۱۰- د مطالعې غوره روش څه کېدلی شي؟

که له زړه وغږېږم، نو تر ډېره د مطالعې د روشونو په سوځو خبرې کول مې نه خوښېږي. په دې چې دا خبرې تر ډېره مصنوعي برېښي. دا خبرې پخوا زمانو کې نه وې او د اوسنيو پېړيو پيداوار دي. د خپلو لويو امامانو، علماوو او فقهاوو په هکله تحقيق وکړئ، آيا چاته يې د مطالعې روش معلوم دی؟ آيا هغو کله په دې پسې سر ګرځولی، چې د مطالعې کوم روش ډېر ګټور دی؟ د امام ابو حنيفه د مطالعې روش چاته معلوم دی؟ هغوی فقط له علم او پوهې سره مينه درلوده او کتابونه يې ذوق وو. هغوی غوښتل په کتابونو ځان پوه کړي او د کتاب تر اصلي جوهر پورې ځان ورسوي، دا چې د دې لپاره به يې د ابن سينا غوندې څلوېښت ځله يو کتاب لوسته يا به يې ټوله شپه ورته سبا کوله، فرق يې نه کاوه.

البته زما خپل روش دا دی، چې د مطالعې په جريان کې د کتاب مهمې خبرې کټ مټ هغسې له ځان سره نوشته کوم، چې ليکوال ليکلې وي. دا تخنيک زه د ليکوالي لپاره هم توصيه کوم. د دې کار څلور ګټې وي: يو، دا چې له کتاب سره مو متمرکز او تړلی ساتي. دوه، چې کله نقل قول کوو، له همدې نوشتو يې کولی شو. دريم، د جملو د ليکلو يو نوی طرز زده کوو او نوي الفاظ مو په ذهن کې ښه کېږي، چې دا راسره په ليکوالي کې هم مرسته کوي. د دې ليکلو څلورمه ګټه دا شي، چې په حافظه کې نسبت نورو خبرو ته ښه ځای نيسي. سمدستي زما د نوټونو کتابچې په دريو وطنونو کې خورې ورې پرتې دي. داسې نه ده، چې دا خواري وه او ضايع شوه. دا هغه خواري وه، چې هغه وخت مې وکړه او ګټه يې تر نن لا محسوسوم. هغه کتابچې که خرابې هم شي، چورت مې نه خرابېږي. په

deenodanish.com له ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دې چې هغه خبرې چې ما له هغو کتابونو لیکلې وې، داسې خبرې نه وې، چې بل وخت او په نورو کتابونو کې یې نه شم موندلی، یا دې د انټرنټ په بې ساري او بې سرحده دنیا کې هغه خبرې نه وي. دنیا له پوهې ډکه ده او هر دېوال په کتابونو پوښلی.

رحمت شاه فراز

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish